# د پښتو صحافت ارتقائي يون (د ستونزو او امکاناتو عمومي جاج)

## Evolutionary Process of Pashto Journalism

Hafiz Rehmat Niazi*

ABSTRACT

The history of Pashto Journalism indicates that it has stepped in along with other genres of modern prose. The beginning was meager and some leading individuals have started from the scratches. This paper through light on the different streams erupted from different regions of the Pushtu-Afghan country.  Especially the foot prints of Pashto Journalism in the recently titled KPK (Former NWFP), British Balochistan (the Pashtoon belt/Nothern Balochistan), Karachi and Afghanistan. The scholar has traced down the epistemological roots of journalism and then has concluded on a vivid tone. This paper posses the statistical manifestations and frequencies of publications. Peculiar political situations are also taken into consideration. One of the main features of the paper is to pin down patterns in terms of contents, techniques and frequencies of publication.

که مونږ په تحريرونو کښې وګورو نو داسې ډېر ټکي شته چې په بېلا بېلو ژبو کښې ورته بېلا بېل توري کارول شوي وي، دغسې صحافت ټکے هم دے چې په مختلفو ژبو کښې ورته په لغوي اعتبار خپل نوم ټاکل شوے دے، په عربي کښې ورته د ابلاغ او صحافت او په پښتو کښې ورته د رسنۍ او په انګرېزي کښې ورته د جرنلزم ټکي ټاکل شوي دي. په فرانسوي او جرمني ژبو کښې هم دغه د انګرېزي ژبې تورے استعمالېږي فقط د جيم حرف پر ځائے ژې حرف ورسره د واو اضافه هم کوي او ژورنلزم ورته وائي. خو چې د هرې ژبې له لغاتو ئې را واخلو نو مفهوم او معنا ئې يوه کېږي. دلته د صحافت

* Ph.D Scholar, Department of Pashto, University of Balochistan Quetta

توري ته په پښتو کښې د رسنۍ تکي کارول شوي دي چې:

"په افغانستان کښې د رسنيو اصطلاح يواځې په دې وروستۍ نيمه لسيزه کښې دود شوه او د دې علت دا چې د رسنيو اصطلاح د رسنيو د اوسني او پراخ مفهوم په توګه ټولې هغه معناوې او ځانګړتياوې را نغاړي چې اوسنۍ رسنۍ ئې لري"(۱).

له پښتو ژبې پرته د خپرونو د دې علم او هنر دپاره په عربي ژبه کښې صحافت، مطبوعات او ابلاغ تکي کارول شوي دي. چې په لغوي اعتبار دغه د صحافت تکي له صحيفې څخه اخستل شوي دي، صحيفه وړوکي کتاب ته وائي، کوم څوک چې دغه د خبرياليۍ دنده کوي هغه ته صحافي وئيل کيږي. هم دغه د صحافت او ابلاغ تکي اردو ژبې هم له عربي اخستي دي.

دغه پورتنۍ خبرې له لړ نور تحقيق سره پروفيسر صاحبزاده حميد الله صاحب داسې ليکلي دي:

"عجبه دا ده چې څرنګه چې په اردو کښې صحافي و اخبار نويس ته وائي د دغه څخه يو مخ په چپ په فارسي کښې صحافي د کتاب د وقائې و جوړيدو ته وائي، او جلد ساز ته وائي. په انګريزي کښې و صحافت ته جرنلزم (Journalism) او صحافي ته جرنلسټ (Journalist) دغه د جرنلزم تلفظ په فرانسيسي ژبه کښې ژورنلزم دي، په افغانستان کښې د فارسي د تلفظ تر اثر لاندې ژورنالزم وئيل کيږي. په جرمني او فرانسيسي ژبو کښې د "ژ" تلفظ د "ج" په ... سره کيږي، صحافت دوني عام لفظ دي چې په پښتو کښې د اخبار والا پر ځاى دغه توري مستعمل دي"(۲).

په عربي کښې که له باب افعاله واخستل شي نو د ابلاغ او که له باب تفعيله واخستل شي نو د تبليغ تکي هم کارول کيږي.

"تبليغ: (تب-ليغ) مذ،ع، رسول، وئيل، پہنچانا، کہا، ۲. مجازاً د شريعت احکام رسول اوبيانول، مجازاً شرعی احکام کا بيان کرنا اور لوگوں کو پہنچانا"(3).

دغسې د پښتو بل مشهور لغات زاهد پښتو پښتو سيند د ابلاغ او تبليغ دواړو يوه معنٰى کړې ده، لږ فرق په کښې د ے:

"ابلاغ (Iblag) نر، م. رساوے، رسول، خبرول، د پېغام او يا ليك رسول"(۴).

دغه زاهد پښتو. پښتو سيند د تبليغ معنا هم دغسې کړې ده، خو لفظ ئې په کښې اضافه کړے د ے او ليکي:

"تبليغ: (Tablig) نر-م (۱) پېغام رسونه، (۲) وعظ، نصيحت، (۳) پروپېګنډه کول.

د تبليغي معنا ئې داسې کړې ده:

"تبليغي (Tabligi) ص، نب، مبلغ، وعظ کوونکی، تبليغ کوونکی، واعظ"(۵).

په پورتنيو لغاتو کښې ابلاغ د صحافت په معنا اخستل شوے د ے او تبليغ د مذهبي يا بلې فرقې د ديني معلوماتو او نصيحت کولو دپاره کارول شوے د ے، او د تبليغ له معنا سره د پروپاګند تورے هم راوړل شوے د ے، دا د نورو لغاتو له رويه د تبليغ په معنا صحيح نۀ راځي ځکه چې پروپېګنډه عموماً په منفي معنٰى اخستل کېږي چې ځينو لغاتو ئې په ډنډورې معنا کړې ده دغسې چې ثوك د دروغو خبر خپروي نو هغه ته پروپېګنډه تورے کاروي، او په عام توګه مونږ داسې وايو چې دا پلانکي سړے هسې پروپېګنډې کوي. يعني خبره ئې حقيقت نۀ لري. خان شهيد عبدالصمد خان په خپل خود نويشت کښې د دې لپاره ""پروپيژنده"" کارولی دی. که په مجلس کښې مونږ چا ته ووايو چې ته پروپيګنډه کوې نو هغه په دې خبره خوا بدوي او خفه کېږي. حالانکې د ابلاغياتو کار دروغ نۀ بلکې حقيقي خبر خپرول وي. ځکه خو اکثره لغاتونه يوائې د تبليغ معنا ورکړې ده او د پروپېګنډې معنا ئې نۀ ده ورکړې.

د تبليغ ټکے په قرآن کريم کښې هم راغلے د ے:

"يا يها الرسول بلغ ما انزل اليك من ربك و ان لم تفعل فما بلغت رسالته والله يعصمك من الناس"(۶).

ترجمه: اې رسوله! کوم څۀ چې تا ته ستا د خدا ے له خوا نازل شي هغه نورو ته په بشپړه توګه ورسوه، که ئې په بشپړه توګه نۀ ورسوې نو تا په بشپړه توګه

تبليغ و نۀ کړ. او د تبليغ په وخت کښې له چا وېره مه کوه، الله تعالىٰ به تا له خلقو ساتي. (ژباړه: ليکوال)

دغسې د صحافي دپاره د بالغ تورے هم استعمال شوے دے:

ان الله بالغ امره قد جعل الله لکل شيئ قدراً.(۷).

ترجمه: يقيناً الله تعالىٰ خپل کار سر ته رسوي او الله تعالىٰ د هر شي اندازه ايښې ده . (ژباړه: ليکوال)

له قرآن کريم وروسته بيا د ابلاغ يا ژورناليزم په معنا په حديث کښې دغه تورے داسې راځي:

"بلغوا عنى ولو اٰية.(۸).

ترجمه: الله تعالىٰ فرمائي زۀ چې کوم څۀ په تا نازل کړم نو هغه که يو آيت وي هم نو تۀ ئې بل ته ورسوه . (ژباړه: ليکوال)

دلته د ""بلغوا"" تورے راغلے دے او په عربي کښې چې کوم ټکے د امر په صيغه راوړل شي نو هغه تورے د حکم دپاره وي او د هغۀ پر ځاے کول واجب وي. دلته د صحافت ارزښت هم معلومېږي چې الله تعالىٰ وائي که څۀ هم يو آيت وي خو چې تا ته ورسيږي نو بل ته ئې رسوه. او په پورتني آيت کښې چې د صحافت دنده ځينې واخستل شي نو الله تعالىٰ دې ته هم اشاره کوي چې دغه کار په ډېر اخلاص او په بشپړه توګه بايد صحافي او مبلغ وکړي که چرې يو ځاے هم کمزوري په کښې اختيار کړي نو د دې معنا دا ده چې صحافي ګرسره خپله دنده نۀ ده ترسره کړې.

**د صحافت اصطلاحي تعريف:**

د صحافت د لغوي تعريف له وضاحت کولو څخه اصطلاحي تعريف هم معلومېدے شي، يعني هغه علم يا هغه هنر چې په ذريعه ئې څوك اولس او ټولنې ته يو داسې خبر ورکړي چې په هغه خبر کښې د ټولنې انساني، اخلاقي، سياسي او قامي ګټه ليدل کېږي، ځکه خو ځينې لغتونه د نبي معنا هم د خبر ورکوونکي کوي يعني نبي هغه چا ته وئيل کېږي چې هغه ته خداے پاك د يو

داسې شي خبر ورکړي چې په کښې د اولس ګټه وي او ښهٔ رهنمائي ئې کېږي، خو ځينې لغتونه چې د نبي دا معنا کوي چې د غيبو خبر ورکوونکی، دا معنٰی د قرآن کريم په تفاسيرو کښې د نبي يوه تفسير هم نهٔ ده کړې، خو کوم ځوك چې د نبي په صفاتو کښې زياته مبالغه کوي نو هغه ئې داسې د غيب په خبر ورکوونکي تعريف کوي. د صحافت د اصطلاحي تعريف په اړه رائحي:

"اصطلاحاً صحافت اپنے مفہوم کے اعتبار سے اس چیز کا نام ہے جو خبروں کی صورت میں دنیا کے حالات و واقعات سے لوگوں کو آگاہ کریں اور خود لفظ اخبار کا مطلب بھی خبر دینا ہے نہ کہ کہانی اور افسانہ البتہ اخبارات کے اندرونی صفحات میں اگر گنجائش ہو تو سائنسی، اقتصادی، معاشی، مذہبی اور اخلاقی قسم کے معلوماتی مضامین اور سیاسی تجزیے و تبصرے دئے جاسکتے ہیں، جیسا کہ آج کل رواج ہے، لیکن اخبار کا بنیادی فریضہ یا کام بہر طور خبریں دینا ہے، چنانچہ اس قسم کی صحافت پشتو زبان میں نہ ہونے کے برابر رہا ہے جبکہ پشتو میں ایسی صفحات کی انتہائی ضرورت تھی اور ہے"(9).

په پورتني حواله کښې که څهٔ هم لومړے محقق په دې خبره زور ورکوي چې ابلاغيات بايد چې يواځې د دنيا په حالاتو او معاملاتو باندې چا ته تر خبر ورکولو محدود شي ځکه چې د اخبار معنی او مفهوم بس هم دغه دے، خو وروسته وائي که د اخباراتو په صفحو کښې ګنجائش وُ نو بيا نورو مضامينو ته هم ځاے ورکولے شي، دا خبره ډېره سمه ده خو لکه څنګه چې په اخبار کښې له ضرورته سره سم د نورو موضوعاتو هم ګنجائش شته، او په دې اړه لږ په نور فرق سره د صحافت تعريف داسې شوے دے:

"حالیہ دلچسپی کے حامل حقائق کو جمع کرنا، جانچنا اور نشر کرنا، صحافت میں رپورٹر فرنٹ اور الیکٹرانک میڈیا کیلئے رپوٹس لکھتے ہیں، عموماً ایڈیٹر اور پروڈیوسر اس کام میں ان کے رہنمائی کرتے ہیں، اولین صحافیوں نے نیوز شیٹس، پمفلٹوں، اخبارات اور جرائد کے لئے رپوٹس تیار کیں، ٹیکنالوجیکل ترقی کیساتھ صحافت میں ریڈیو، ڈاکومنٹری، فلمیں، ٹیلی ویژن اور انٹرنیٹ بھی شامل ہوتے گئے... شروع میں اخبارات صرف ایک صفحے پر مشتمل ہوتے اور ان میں کسی ایک واقعے ہی کو رپورٹ کیا جاتا تھا"(10).

له هم دې حوالې معلومېږي چې د ابلاغياتو ضرورت نن سبا يواځې په ورځپاڼو يا مجلو وغيره نۀ پوره کېږي اوس خو د اليکټرانك مېډيا دور دے او انسان غواړي چې په منټ منټ د دنيا په حالاتو باندې ځان خبر کړي نو ځکه د ابلاغياتو (رسنيو) لمن هم پراخه شوې ده او له ورځپاڼو سره سره رېډيو، ټي وي او نن سبا خو فېسبوك لا هم مخې ته راغلے دے چې ډېر په منډه د خبرونو خپرولو دنده ترسره کوي.

## د پښتو صحافت لومړي پلونه:

له پښتو صحافت سره تر ټولو لومړے زياتوب دا کېږي چې اکثر پوهان چې د صحافت خبره کوي نو د پښتو صحافتي برخه نظر انداز کوي او په يو وخت کښې چې په نورو ژبو کښې د صحافت خدمات ترسره کېږي د پښتو صحافت هم ورسره په پښتني سيمو کښې څنګ په څنګ روان وي خو محققين د پښتو صحافت په اړه له پټو سترګو کار اخلي، دلته د يوۀ ذمه وار محقق يوه نمونه ستاسو مخې ته ږدم چې کله دوي دغه ليکنه کوله هغه وخت پښتو صحافت په زور او شور کښې ؤ خو دوي ئې په خپل کتاب کښې هېڅ ذکر نۀ دے کړے:

"انیسویں صدی کے ربع اول میں مولانا ظفر علی خان، مولانا محمد علی جوہر، مولانا ابو الکلام آزاد، مولانا حسرت موہانی، مولانا محمد اکرم، شیخ عبد القادر اور دوسرے اکابر نے مسلم صحافت کو وقار بخشا اور اسے مقبول بنایا... بحیثیت مجموعی برصغیر کی صحافت تین حصوں میں تقسیم رہی: (1) اینگلو انڈین صحافت: جو انگریزی اخبارات و جرائد پر مشتمل تھی اور حکومت کے مفادات کا تحفظ کرتی تھی. (2) غیر مسلم صحافت جس پر اصل میں ہندوؤں کا غلبہ تھا، یہ انگریزی، بنگالی، ہندی اور دوسری زبانوں کے بعض اخبارات و جرائد پر مشتمل تھی اور اس کا حلقہ اثر خاصا وسیع تھا. (3) مسلم صحافت جو زیادہ تر اردو اخبارات و جرائد پر مشتمل تھی، اینگلو انڈین اور غیر مسلم صحافت کے مقابلے میں یہ خاصی کمزور تھی، مسلمانوں کے پاس مالی وسائل کم تھے، وہ تعلیمی لحاظ سے بھی پسماندہ تھے، ان کے اخبارات و جرائد کا تناسب پندرہ بیس فیصد رہا" (11).

له پورتنۍ حوالې وروسته حجازي مسکین د ورځپاڼو او مجلو د شمېر په اړه په ژبني لحاظ د ګوشوارې په نومونو څلور ګوشوارې ورکړې دي، چې په دویمه ګوشواره کښې وائي:

"پاکستان اخبارات و جرائد کی تعداد لسانی لحاظ سے۔

| سال | اردو | انگریزی | سندھی | پشتو | بلوچی | بنگالی | میزان |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1953ء | 296 | 60 | 18 | 0 | 0 | 62 | 446 |
| 1958ء | 685 | 165 | 96 | 16 | 1 | 130 | 1106 |
| 1963ء | 775 | 286 | 61 | 10 | 0 | 230 | 1611 |
| 1969ء | 613 | 361 | 57 | 13 | 1 | 378 | 1825 |
| 1975ء | 821 | 325 | 66 | 6 | 1 | 0 | 1605 |
| 1978ء | 829 | 97 | 88 | 3 | 1 | 0 | 1552"(12) |

دا هغه ګوشواره ده چې په کښې په ۱۹۵۳ء کښې په تاریخي حواله که وګورو نو له دې څخه لس دوولس کاله وروسته په جنوبي پښتونخوا (بلوچستان) او خیبر پښتونخوا او افغانستان کښې هم د صحافت هلې ځلې پېل شوې وې، که څۀ هم د حجازي په تحقیق کښې دا معلومېږي چې تر نولس سوه دري پنځوس (۱۹۵۳ء) پورې په اردو، انګرېزي، سندهي او بنګالي کښې ورځپاڼې چاپ کېدې خو په حقیقت کښې تر دې پنځلس کاله له مخه له جنوبي پښتونخوا هم د صحافت پېل خان شهید په پښتو او اردو دواړو ژبو کښې کړے ؤ. په خیبر پښتونخوا او افغانستان کښې هم دا سلسله پېل شوې وه، خو حجازي مسکین د پښتني سیمو و صحافتي هلو ځلو ته پام نۀ دے اوښتې. ښائي چې د تاریخ د نورو جبرونو غوندې په صحافتي تاریخ کښې هم دغه رویه برقراره پاتې شوې ده. خو تاریخ کله هم له ځان سره منسوب مواد مخ او شا ته نۀ پرېږدي او یو نه یو وخت نوي محققین راځي او په صحیح توګه تاریخي معلومات رابرسېره کوي. دا ځکه چې ژوندي خلک تول عمر خاموشه نۀ شي پاتې کېدے، د خان شهید غوندې ژوندے شخصیت ؤ چې په دغه ډېره

پاتې سیمه کښې ئې د صحافت پېل په ډېرو سترو حالاتو کښې وکړ.

**پښتو صحافت په خېبر پښتونخوا کښې:**

په مجموعي توګه که مونږ د پښتنو په سیمه ایز صحافتي تاریخ نظر واچوو نو دا د اتلسمې پېړۍ په وروستیو شپو او د نولسمې پېړۍ په لومړیو کښې معلومېږي، په کومو سیمو کښې چې پښتانه اوسېږي، که په پاکستان کښې په جنوبي ښتونخوا کښې وي که په خېبر پښتونخوا یا په افغانستان کښې وي، نو د ټولو سیمو د ابتدائي صحافت پېل په یوه ژبه کښې نۀ بلکې په دوو یا دریو ژبو باندې ئې پېل شوے دے، په پاکستان کښې چې لومړے وار صحافتي هلې ځلې پېل شوې دي نو له اردو ژبې سره سره فارسي، بنګالي، دري او پنجابي ژبې هم په هر محاذ اوږه په اوږه ولاړې پاتې شوې دي، له ابتدائي اردو سره پنجابي، بنګالي او فارسي ملګرې شوې ده، په خېبر پښتونخوا کښې له پښتو سره فارسي او اردو ګډې شوې دي، دغسې په جنوبي پښتونخوا کښې هم له پښتو سره په څنګ کښې اردو او په افغانستان کښې له پښتو ژبې سره په یو یو ځاے فارسي هم ملګرې شوې ده. که څۀ هم په دغو دریو سیمو کښې پښتانۀ په اکثریت کښې پاتې شوي دي خو د مخالف ډلې له خوا ورته دا موقع نۀ ده ورکړل شوې چې د خپل اولس غږ دي په خپله ژبه کښې د صحافت په ذریعه ښکاره شي:

"په سرحدي صوبه کښې د صحافت تصور هم د مسلمانانو بادشاهانو په وختونو کښې را پیدا شوے ؤ، د تاریخي عواملو له مخه دغه تصور یقیناً چې ډېر پخواني او وړومبي نقش دے خو د بدقسمتۍ نه یو محقق هم د صحافت او د تاریخ تر مینځه هغه نازکه رشته په ګوته کړې نۀ ده کومه چې د خبر رسانۍ د دغې پخواني نظام په وجه قائمه شوې وه"(۱۳).

دغسې په سرحدي صوبه یعني اوسنۍ خېبر پښتونخوا کښې چې د صحافت تصور د مسلمانانو باچاهانو په وخت کښې شوے دے چې لومړۍ میاشتنۍ پښتو مجله ئې د اسلام په نامه چاپ شوې وه او په ابتدائي

صحافتي ورځپاڼو او مجلو کښې د بهرنيو صحافيانو غوندې په پښتني سيمو کښې هم مذهبي او قامي رجحانات زيات ؤ او د دوي لومړې مجله هم قامي او مذهبي تبليغاتو ته زياته توجه ورکوله او په نتيجه کښې ورسره داسې وشو:

"1854ء میں فرنگی استعمار کے خلاف سیدو کے باباجی حضرت عبدالغفور صاحب نے "اسلام" کے نام سے ایک اخبار جاری کیا جو اس خطے کا سب سے پہلا باطل شکن اخبار تھا، جو حضرت خلیفہ عبدالغفار پشاوری کی ادارت میں شائع ہوتا تھا، چونکہ اخبار مخفی طریقے پر کسی اجازت اور بغیر کسی تاریخ اور دن کے کسی نامعلوم جگہ سے چھپتا تھا اور بلاقیمت قبائلی لوگوں میں تقسیم ہوتا تھا، اس لئے انگریز اسے روکنے میں ناکام رہے... غالباً یہ جریدہ یا اخبار جس کے متعلق میں نے پڑھا ہے پر دیکھا نہیں، لاہور یا امرتسر میں کسی حریت پسند کے پریس میں چھپتا تھا"(14).

د "اسلام" مجلې سره تړلې چې کومې مسئلې دي، دا ټول پر خپل ځاے د اهميت وړ دي، خو دغه خبره چې "اسلام"" يوه ورځپاڼه وه، په دې اړه نور تحقيقات وائي چې اسلام يوه مياشتنۍ مجله وه او اصلاً ټوله پښتو ته ځانګړې وه او د اردو او فارسي يوه يوه پاڼه هم په کښې چاپ کېده. او وروسته ښاغلی محقق په پورتنۍ حواله کښې ليکي هم چې غالباً دغه جريده يا اخبار چې په اړه ئې ما وئيلي وو او ليدلې مې نۀ وه، له دې هم معلومېږي چې مجله وه او د تحقيق په زور يوه مسئله په دلائلو حل کېدے شي په قياساتو او ګمانونو باندې نۀ حل کېږي. او د دغه مجلې په اړه ښاغلی ډاکټر همايون هما ليکي:

"په کال ۱۸۵۴ء کښې چې کومه ديني او نيم ادبي جريده مخې ته راغې... حضرت عبدالغفور المعروف به سيدو باباجي په کال ۱۸۵۴ء کښې د دې جريدې اجراء کړې وه، د دې مياشتيزې جريدې مدير د حضرت سيدو بابا يو خليفه عبدالغفار پشاوري ؤ. په دې مذهبي رساله کښې به د عيسائي مبلغينو له اړخه د دين اسلام خلاف د پروپيګنډو په ځواب کښې مضمونونه چاپ کېدل. د دې نه علاوه به په کښې د سيکانو او د پيرنګيانو د تسلط نه د خپل

وطن د ازادۍ دپاره تلقين کېدۀ، د دې جريدې طباعت او اشاعت په ډېره پټه طريقه کېدۀ او د دې ټول خرڅ به حضرت عبدالغفور سيدو باباجي په خپله پرې کوه. د فارغ بخاري د وينا مطابق مياشتيزه اسلام په بنيادي توګه د پښتو مجله وه، په دې رساله کښې يوه يوه پاڼه اردو او فارسي ته ورکړے شوې وه. د تبليغي نوعيت د ليکونو نه علاوه د اردو او فارسي د کلام او د فارسۍ د پخواني ادب نه په اردو او پښتو کښې ترجمې، خصوصاً د حکايات سعدي برخې به په تواتر سره په دې پرچه کښې چاپ کېدې، مياشتيزه اسلام په سرحدي صوبه کښې د علمي او ادبي صحافت وړومبۍ نخښه وه"(۱۵).

په پورتنۍ حواله کښې درې خبرې مخې ته راغلې يوه دا چې په ابتدائي صحافتي هلو ځلو کښې مذهبي تبليغات کېدل، او دا ښکاره خبره ده چې هره مجله يا ورځپاڼه يا په اوس وخت کښې يو کتاب چې چاپېږي نو د هغۀ څۀ خپل هدفونه حتماً وي، په تېرو وختونو کښې چې کومو مستشرقينو دلته کتابونه يا څۀ نورې ليکنې کړې دي نو د دوي هم مذهبي هلې ځلې اصلي موخه وه، او مونږ وينو چې ډېرو مستشرقينو انجيل او نورې مذهبي ليکنې پښتو ته ترجمه کړې دي، خو له بده مرغه که دغه جذبه د نورو مذهبونو خلکو ته پيدا شوې ده او دوي ورباندې محض شکي شوي وي نو هم دوي د هغوي په ليکنو بنديزونه لګولي دي. دويم دا چې د خپل وطن د ازادۍ تلقين خلکو ته ورکړۀ کېدے، دريم دا چې وړومبۍ مياشتيزه په سرحدي صوبه [خيبر پښتونخوا] کښې د اسلام په نامه خپرېده او په دريو ژبو کښې به په کښې ليکنې چاپ کېدې.

په ۱۹۲۸ء کښې خو ځينې محققين وائي چې په ۱۹۳۰ء کښې انګار مجله په اردو او پښتو ژبه کښې پېل شوه، د اردو ژبې مدير ئې سيد ضياء جعفري او د پښتو برخې مدير ئې امير نواز جليا ؤ. د دغې مجلې په اړه محققين ليکي چې:

"انګار مجله د لوړو انقلابي ارادو سره په کال ۱۹۳۰ء کښې د چاپ ډګر ته راووته، دا مجله به په اردو او پښتو دواړو ژبو کښې خورېده د اردو ژبې مدير سيد ضياء جعفري او د پښتو ادارت د نومورړي انقلابي لېډر د پښتو د شعله

بیان شاعر او د ازادۍ د تحریك پرجوشه مبارز امیر نواز جلیا په غاړه وه... د انګار د لیکونو په شا لوی مقصد د پیرنګیانو خلاف د اولس بیداري او پردۍ واکمنۍ نه د خپلې خاورې ازادي وه، په انګار کښې چاپ هر ټکے به لکه د سرې سکروټې تود ؤ او د هر لیك نه به ئې شنې لوخړې ختلې، انقلابي نظمونه، د پېرنګي د ظلمونو قیصې او په خپله خاوره د خپل اختیار چغې به د انګار د لیکنو عمومي موضوعات وو"(۱۲).

**صحافت په افغانستان کښې:**

د خېبر پښتونخوا له چاپ شوو یادو پورتنیو مجلو پرته د افغانستان په زرخېزه او مردم خېزه خاوره هم له کلونو راهیسې د پښتو ژورنالزم دپاره په هر ډول سختو حالاتو کښې په ډېر اخلاص او زیات شمېر کار شوے دے. تراوسه پورې چې د پښتنو په هغو سیمو کښې چې پښتانۀ په کښې اباد دي، د زیات شمېر مجلو او ورځپاڼو چاپولو په اړه افغانستان تر ټولو سیمو مخ په وړاندې دے. د دې علت به یقینادا وي چې دلته پښتانه خپل ریاست (دولت) لري. هغه که د جنګ په حالت کښې وي او که پخوا د امن په حالت کښې ؤ، علمي او صحافتي هلې ځلې دوام داره پاتي شوي دي.

ښاغلي شهسوار سنګروال په افغانستان کښې د صحافتي خدماتو په اړه لیکلي دي:

"د نوموړي امیر [شېر علي خان] په موده کښې یوه جریده د لېتو ګرافي مشین کښې له چاپ نه ووتله، دا جریده چې "شمس النهار" نومېده اونۍ کښې یو ځل خپرېده، خو د ځنې تاریخي اسنادو له مخې د امیر محمد اعظم خان د سلطنت په لنډه موده کښې هم یوه جریده د "کابل" په نوم خپرېده چې کتونکی ئې سید جمال الدین افغاني ؤ، خو له بدغه مرغه چې کومه نسخه ئې په لاس کښې نۀ شته.د شمس النهار جریدې د کال ۱۲۹۰ء نه په خپرونو پېل وکړ، لومړے په میاشت کښې یو ځل او بیا دوه ځله له چاپه وتله، دا مهالنۍ په شپاړسو مخونو کښې د قاضي عبدالقادر پشاوري په لیکنه او د میرزا عبدالعلي په اهتمام د شمس النهار

مطبعې نه خپرېده.... خو بيا وروسته د انګرېزانو د تېري په نتيجه کښې د نورو پرمختيائي وسايلو تر څنګ له منځه لاړه او د هېواد په مدني چاپېريال کښې د اوږدې مودې دپاره تيارهٔ خوره شوه"(۱۷).

په پورتنۍ حواله کښې څرګنده ده چې د شمس النهار مجله د قاضي عبدالقادر پشاوري او مرزا عبدالعلي په هلو ځلو چاپ کېده، خو عبدالجليل وجدي ليکي:

"د دغسې يو اخبار خپرول د هغو اصلاحاتو يوه برخه وه چې سيد جمال الدين افغاني ئې امير شېر علي خان ته د دهٔ د سلطنت په لومړۍ دوره ۱۸۶۲ء کښې سپارښتنه کړې ده"(۱۸).

بهر حال د دواړو حوالو نتيجه راوځي چې د امير شېرعلي په لومړۍ دوره کښې سيد جمال الدين افغاني د مجلې خپرولو سپارښتنه کړې وه، خو د امير شېر علي په دويمه دوره کښې دوه کاله وروسته په ۱۸۶۸ء کښې په منظمه توګه د دغې مجلې پېل شوے دے. چې مقصد ئې خپلې اقتصادي او مذهبي خپرونو ته د لارې هوارولو هڅه وه د دغه جائز او ضروري مقصد په اړه مونږ وينو چې:

"د شمس النهار د داسې يوې خبرې څخه چې ... سعی درن خواهد کهه خبر بازاری و پوچ هرگز درین اخبار درج نگردد.... څرګندېږي چې دغه اخبار او محلي خبرونو په مقابل کښې داسې يو دريځ درلود چې نننی صحافت يا ژورنالېزم ئې نهٔ تائيدوي البته په اصطلاح د پوچو خبرو د نهٔ خپرولو په برخه کښې ورسره توافق لري خو د افغانستان د مطبوعاتو دغه عنعنه چې د پخوانيو ځراغونو په څېر تر خپلو پښو لاندې ځمکه په تيارهٔ کښې ساتي، له هم دغه وخت څخه پېل شوې ده"(۱۹).

د دغې مجلې د نېك مقصد او وطنوالو ته د يو ښهٔ ژوند کولو درس ورکاوهٔ، وخت په وخت د انګرېزانو له خوا ورباندې شکونه شوي دي او دوي نهٔ غوښتل چې په پښتنانهٔ قام کښې د خپلواکۍ او ازادۍ هيله پيدا شي، او کله چې له شمس النهار وروسته په سراج الاخبار کښې د مولوي صالح محمد کندهاري منظومه ليکنه چاپ

شوه، نو په عمومي ډول د شمس النهار او په مستقل ډول د سراج الاخبار د بندېدو کوښښونه وشول، په دغه اړه وجدي صاحب لیکي:

"روسي حکمران جنرال کوراپاتکین د سراج الاخبار د خپرونو څخه شکایت درلود دغه اخبار په افغانستان کښې د مشروطیت غوښتونکو د قلم په طاقت چلېدهٔ چې نورو محکومو اولسونو ته ئې هم د ازادۍ پېغامونه درلودل، روسان د دغه اخبار د خپرونو څخه انګرېزانو ته په شکایت ورغلل او ورته و ئې وئیل چې دوي باید د افغانستان په امیر حبیب الله فشار واچوي چې د دغه اخبار ژبه بنده کړي، ځکه چې سراج الاخبار په خلکو کښې د ازادۍ غوښتنې جذبه را ویښوي او خلک د روس او انګرېزانو په ضد را پاروي خو انګرېزانو په خپله هم له دوي څخه د مخه دا ډول شکایت درلود. د ډیلي چیف کمشنر ډبلیو ایم هیلي د ۱۹۱۴ء کال په ستمبر کښې د جنائي اطلاعاتو سر مامور ته ولیکل چې د سراج الاخبار د خپروني لهجې زمونږ ګتې له سخت زیان سره مخامخ کړې ده، باید په هند کښې د هغهٔ د خپرېدو مخه ونیولی شي."(۲۰).

دا سراج الاخبار هغه جریده وه چې له شمس النهار وروسته د دوېمې جریدې په نوم شهرت لري، په لومړي وار د سراج الاخبار افغانستان، بیا د سراج الاخبار افغانیه او په وروستي دور کښې د سراج الاطفال په نامه پېل شو او دغه درېم وار ئې خپرونې د ماشومانو دپاره کولې. په لومړي وار ئې مسئول مدیر مولوي عبد الرؤف کندهاری ؤ، په دغه وار د سراج الاخبار یوائې یوه ګڼه چاپ شوې ده. له څهٔ مودې وروسته بیا دغه جریده د سراج الاخبار افغاني په نامه پېل شوه، او دغه دویم وار ئې مسؤل مدیر علامه محمود طرزي ؤ، چې په افغانستان کښې د ژورنالیزم په اړه ډېر لوی نوم لري. دغه سراج الاخبار پوره اتهٔ کاله خپور شوے دے، کله چې مولوي صالح محمد کندهاري یوه منظومه سیاسي تبصره ولیکله، او په کال ۱۹۱۵م کښې د اپرېل په میاشت کښې په سراج الاخبار کښې چاپ کړه د هغې څو شعرونه وګورئ:

"تــهٔ کُــره د زمکــې ګــوره نظـــر وکـــړه زمـــا وروره!

دنیـــا ده پـــر ښـــو راغلـــې
لـــوے ملـــل چـې پـــر دنیـــا دے
تـــول پـــه جنـــګ ســـره اختـــه دي
جـــرمن دے خـــدا ے ګمـــارلے
انګریـــزان پـــه ویـــر اختـــه دي
همـــــت ګـــوره د ترکـــــانو
اې زمــــــا برادرانـــــــو
ښـــهٔ فرصـت دے خـدا ے راکـړے
چـــې کفـــار ســـره اختـــه دي
شـــکر ئـــې وکـړئ چـې شـي زیـاد

توربیـــــدلې، قهربیـــــدلې
پـــه یـــورپ کـــه پـــه ایشـــیا دے
پـــه ســـرو وینـــو اغوښـــته دي
روس انګریـــز تـــه ښـــکاریدلے
ډیـــر مغمـــوم خـــورا خفـــه دے
د رومیـــــــانو عثمانیـــــــانو
اې جملـــــــه مســــــلمانانو!
ښـــهٔ موقـــع ئـــې پیـــدا کـــړې
پـــه ســـرو وینـــو اغشـــته دي
کـــافران تولـــه شـــي بربـــاد

دغه منظومې اخباري تبصرې د هند د برطانوي حکومت زړهٔ له وېرې ولړزاوهٔ"(۲۱).

په شلمې صدۍ په دویمه لسیزه کښې غازي امان الله خان غوندي انقلابي باچا د افغانستان پر تخت کښېنوست. د هغه په وخت کښې یو پلو ته سراج الخبار پېل شو، ښوونځیان پرانستل شو او په باقاعدګي سره د ورځپاڼو د لوست رواج پېل شو. د هغه وروسته د مصاحبان برادر (ظاهر شاه او داود) په واکمنۍ کښې هم پښتو رسنۍ په څهٔ نا څهٔ بڼه لیدل کېږي.

ورځپاڼو او مجلو کار هغه وخت نور پیاوړی شو کله چې په افغانستان کښې د ویښ ځلمیانو د علمي او ادبي بهیر منورین او پوهان د اولس واکۍ، اسلامیت او سوشلزم د غورځنګونو سره و تړل شول او تولو ګوندونو د خپلو نظریاتو د خپروني لپاره ورځپاڼې، مجلې او کتابونه لیکل پېل کړل. لکه څنګه چې ""خلق"" او ""پرچم"" د سوشلزم د نظریاتي اساس د خپرولو لپاره د کېڼ لاسو ورځپاڼې پېل شوې. هم د غه ډول د رجعت خوښونکیو له خوا هم کتابونه او مجلې لیکل پېل شوې.

د افغانستان د خونړي جنګ په ترڅ کښې چې د طالبانو کوم څواکونه واکمن شو نو د هغوی په دوره کښې د راډيو او ورځپاڼو کار ته زياته پام واوښت. عبدالهادي حېران د طالبانو د رژيم لخوا ادارت لرونکي ګڼ شمير مجلې پښتو، اردو او عربي مجلې په خپله مقاله (A Profile of Taliban Propaganda) کښې ياد کړي دي. په کندهار، کوټه او پيښور ښار کښې تر ۲۰۱۳ ميلادي کال پورې شهمت، اذان، مورچل او د شريعت په نامه پر رنګين او ګران کاغذ مجلې چاپېدلې.

د ثور انقلاب څخه بيا تر اوسني وخته پورې دپښتو صحافت په ډګر کښې ډېرې مجلې او ورځپاڼې چاپ شولې. خو د پر له پسې جنګونو، مالي مشکلاتو، مهاجرت او د پښتنو بې سوادۍ په سوب لږ مجلې او ورځپاڼې تر ډېره وخته پورې دوام و درلود.

## په جنوبي پښتونخوا کښې پښتو صحافتي هڅې:

لکه څنګه چې وختي و وئيل شو چې رسنۍ يا ذرائع ابلاغ په شلمې مېلادي صدۍ کښې د مظلومو او محکومو قامونو په لاس کښې د عيسٰی لکړه ثابته شوله ځکه خو د فرنګي سامراج په نظر کښې هغه ټول خلق او ګوندونه ياغيان و ګڼلَ شول چې د رسنيو له لارې ئې د حريت او خپلواکۍ فکر خوروۀ.

په افغانستان کښې چې له شمس النهار مجلې سره کومه رويه بهرينو مخالفينو ساتلې وه، هم دغه رويه ئې په جنوبي پښتونخوا کښې له استقلال ورځپاڼې سره هم کړې وه او د خان عبدالصمد خان شهيد په زيار چې په جنوبي پښتونخوا کښې کومه صحافتي لومړنۍ ډيوه بله شوې وه د هغې د مرۀ کولو په وار وار هم خپلو او هم پردو هڅې کړې وې چې يوه نمونه ئې خان شهيد داسې بيان کړې ده:

"په کال ۴۱-۱۹۴۰ء کښې د بلوچستان انګرېز ايجنټ متکاپ زما اخبار استقلال بند کړ ما خبره د هيند د اخبارو جرګې (ال انډيا نيوز پېپر ايډيټر کانفرنس) ته وړاندې کړله او بيا مو د بلوچستان د اخبارو د جرګې يوه

جرګګۍ (ډیپوټیشن) متکاپ له بوتۍ چې ورسره خبرې وکړو، یو زۀ یو مسټر جهانګیاني د سټېټمین د کوټې خبر او (نامه نګار) ورغلو او یو د سیوۍ یو جرګه باز چې اخبار ئې درلود او زمونږ د جرګې غړی ؤ ورغلو دوې ګهنټې مو خبرې وکړې چې زیاتره ښې ګرمې خبرې وې، دا جرګه باز غلی ناست ؤ څۀ ئې نۀ وئیل په پایې کښې ناڅاپې ولاړ شو چې زۀ څۀ وایم، لاس ئې په ځیګر ونیول وې صاحب! ته خو زمونږ مور او پلار ئې تا ته خدا ے واک درکړے دے، مونږ به خود تېروزو او تۀ به مو پر لار کوې، که څۀ هم بد شوي وي اوس دوي ته بخښښ وکړه... هو زۀ هم پوه یم چې دا خبرې نۀ د بخښښ دي او نۀ په بخښښ غوښېږي که ستاسې اخبار د دود (قانون) چپ روان وي زۀ ئې نۀ شم بخښلے او که نۀ ما ته دروغ رپورټونه راغلي او اخبار چپ کار نۀ وي کړے نو د هغۀ بندول بد کار دے بېرته ئې پرېږدم"(۲۲).

له کال ۱۹۳۸ء څخه تر ۱۹۵۰ء پورې استقلال په اٰب و تاب کښې خپل صحافتي سفر جاري وساتلو. خو د استقلال اخبار تر نامه له مخه د بلوچستان ورځپاڼې په نامه خان شهید د وخت له سرکاره غوښتنه کړې وه چې دوي ته د یوې ورځپاڼې اجازه ورکړي چې په بدل کښې ئې استقلال را منځ ته شو او بلوچستان ورځپاڼه جاري نۀ کړے شوه. ښاغلی شوکت ترین د بلوچستان اخبار په اړه لیکي:

"خان شهید په دې خبره ښۀ پوه ؤ چې د یو سیاسي غورځنګ دپاره باید یو سیاسي ترجمانه ورځپاڼه یا مجله وي چې یوې خوا ته خلک د حالاتو باخبر اوساتي او بلې خوا ته د انجمن وطن سیاسي فعالیتونه هم د لېرې پروتو سیمو او هندوستان د نورو سیمو اولس په خبر کړي، ځکه د انجمن وطن د قیام د مخه له په کال ۱۹۳۲ء کښې خان شهید د یو اخبار بیا بیا تابیا کړې وه... مونږ چې کله په دې خبره خبر شو چې د بلوچستان د قام مشهوره خادم خان عبدالصمد خان اڅکزي په تېرو شپو کښې د کوټې و پولیټیکل ایجنټ ته د یوې ورځنۍ "بلوچستان" دپاره درخواست ورکړ، نو هغه ته په صفا ټکو کښې

ځواب ورکړل شو چې داسې نۀ شي کېدے، بلکې کله چې خان د دغه انکار د حکم د نقل اخستلو خواست وکړ نو د هغۀ څخه هم تېه وکړل شوه او کله چې خان د پولېټيکل ايجنټ سره د ليدنې خواهش ښرګند کړ نو هم د پامه وغورځول شو"(۲۳).

استقلال يو کامياب او منلی اخبار ؤ، او داسې مضامين او موضوعات به ئې چاپول چې د پښتنو او بلوڅو د محکومو سيمو غړ ئې د خپلو چاپي موادو په رڼا کښې په واز کومې پورته کاوۀ، د کومې موخې او جائز مقصد دپاره چې ئې پېل شوے ؤ د هغۀ جائز مقصد د ترلاسه کولو دپاره ئې لوی ثبوت د سيال کاکړ حواله ده او د ے ليکي چې:

"دغه اخبار د پښتنو ملي ارزوګانو ښکارندوے او د اولسي غوښتنو ترجمان ؤ. دې اخبار به ښۀ په زړۀ پورې خبرونه درلودل، اداريې ئې انقلابي، مضامين ئې خوندور بلکې ټولو مطالبو ئې د خلکو په ځلاند سباوون پورې اړه درلوده"(۲۴).

دا چې استقلال اخبار دومره زورور مضامين چاپول چې محکوم پښتانۀ او بلوڅ قام ته ئې د بيدارۍ او خپلواکۍ جائزه لارښوونه کوله، نو د تېرو تاريخونو له روايته ښرګند پرې چې د انګرېزانو او د نورو پښتون مخالف سوچ او فکر خاوندانو له خوا ورته سختې ستونځې پېښې شوې دي، د دغو ستونځو په اړه يو دوې حوالې د دې دپاره وړاندې کوو چې د استقلال اخبار د مضامينو ارزښت ته د خلکو پام راوګرځي او ورسره د اخبار د بندېدو په اړه د محققينو رايې هم په اختلافي توګه په ګوته شي او د تاريخونو د صحيح کېدو هڅه هم ورسره شامله شي. په دې اړه پروفيسر صاحبزاده حميد الله په لنډه توګه داسې ليکي:

"د انجمن وطن" د اخبارو نوم که يوه خوا ته د نۀ هېرېدو وړ دے نو بله خوا ته د خپلو خدماتو له کبله په سرو زرو د ليکلو وړ دے، يواځې دې اخبارو په دې لړې پراته، شاته، پاتې او توره تاريکه سيمه کښې د صحافتي خود اعتمادۍ، بيدارۍ، استدلال، عزم او جوش عمل مشعلونه بل کړو، استقلال

او د دهٔ ملګری اخبار یو وار دوه مخه فرنګي بند کړي وو، په ۱۹۴۷ء کښې د ملك د ازادۍ او د خان عبدالصمد خان د ګرفتارۍ سره دا اخبارونه د تل دپاره بند شو"(**۲۵**).

د صاحبزاده حمید الله په پورتنۍ حواله کښې د اخبار په ستونځو خبرې شوې دي خو په تحقیقي حواله په کښې دوې نکتې دي چې یوه ډېره اهمه ده هغه دا چې د ګلستان مجلې سره په هغه وخت کښې خان شهید یوه بله مجله هم د وطن په نامه چاپ کوله، دویمه نکته دا چې استقلال اخبار په کال ۱۹۴۷ء کښې له څو واره بند کېدو وروسته د تل دپاره بند شو. لومړۍ خبرې ته که ځیر شو نو په دغه دور کښې له استقلال سره سره بله مجله د وطن په نامه په محققینو کښې هیچا هم نهٔ ده یاده کړې، البته په هغه وخت کښې "انجمن وطن" یو قامي تحریك ؤ، ممکنه ده چې له دغه نامه صاحبزاده صاحب یو تورے وطن را اخستی وي او ورته ئې اخبار وئیلي وي، په هغه وخت کښې هم دغه یو اخبار استقلال ؤ بل داسې اخبار نهٔ دے راوتلی، دویمه خبره دا چې استقلال په ۱۹۴۷ء کښې بند شوے دے چې دغه تېروتنه نورو محققینو هم په تسلسل سره کړې ده، ډاکټر لیاقت تابان د استقلال اخبار د بندېدو د تاریخ په اړه د صاحبزاده حمید الله خبرې ته اهمیت ورکړے دے او یا ئې د بلې حوالې له رویه لیکلي دي چې:

"د کال ۱۹۳۸ء څخه تر ۱۹۴۷ء پورې د استقلال او خورشید په چپه نورې زیاتره ورځ پاڼې لکه کلمة الحق، الحق، پاسبان، السلام، تنظیم، جمهور، الفاروق په اردو کښې او یوه انګرېزي ورځپاڼه کوټه ټائمز له دې ځاے څخه خپرېده"(**۲۶**).

په پورتنیو حوالو کښې صاحبزاده حمید الله یوائې د استقلال اخبار د بندېدو نېټه ۱۹۴۷ء ښودلې ده خو ډاکټر لیاقت تابان له استقلال اخبار سره سره د خورشید په اړه هم لیکلي دي چې دواړو ورځپاڼو تر ۱۹۴۷ء پورې خپل

صحافتي سفر جاري ساتلے دے، خو د دوي له حوالو پرته نورو محققينو هم د ۱۹۴۷ء خبره کړې ده لکه زلمی هیوادمل چې لیکي:

"خو لومړنی اخبار چې په دې سیمه کښې جاري شو هغه استقلال نومېدۀ د چاپ کال ئې ۱۹۳۸ء ښوول شوے دے، دا به په اوو ورځو کښې یو ځل چاپ کېدۀ... دا اخبار تر ۱۹۴۷ء پورې چاپ شو."(۲۷).

د دې پورتنیو حوالو وروسته بیا راځم د استقلال اخبار له ستونځو سره مخامخ کېدو باندې خبره کوم چې په یوه ډېره شا ته پاتې سیمه کښې چې کله د اولس د بیدارۍ خبره کومه اداره یا کومه مجله یا اخبار کوي نو د هغه وخت د مخالفې ډلې له خوا ورته حتماً ستونځې پېښېږي. د استقلال اخبار د جاري سفر او بندیز په حقله هم د اخبار مدیران له رنګارنګ ستونځو سره مخامخ شوي دي، د وخت سرکار له خوا په وار وار ورته تکلیفونه پېښ شوي دي. ډاکټر سیمې نغمانه په دې اړه لیکي:

"عبدالباقی بہاری، عبدالقدوس صہبائی اور اللہ بخش مسلم بالترتیب استقلال کے مدیر رہے۔ اکبر خان اچکزئی کے مطابق استقلال جاری ہوا تو پہلے روز شہر میں مفت تقسیم کیا گیا خود اکبر خان اچکزئی رضاکارانہ طور پر 1940ء تک گلستان میں استقلال کے سٹاف رپورٹر کے طور پر کام کرتے رہے۔ 1939ء میں کانگریس کی طرف سے چلائی گئی "ہندوستان چھوڑ دو" تحریک کی خان صمد نے بھرپور حمایت کی اور اپنی تحریروں کے ذریعے انگریزوں کی شدید مخالفت کی، لہٰذا 1940ء میں فرنٹئیر کرائمز ریگولیشن کے تحت دفعہ 144 الف لگا کر ان پر مقدمہ چلایا گیا اور جرگہ کے ذریعے تین سال قید بامشقت اور تین ہزار روپے جرمانہ کی سزا ملی، انہیں جیل بھیج دیا گیا اور اخبار کے ایڈیٹر کو شہر بدر کر دیا گیا، رہائی کے بعد عبدالصمد نے اخبار کی ادارت خود سنبھالی لیکن اب خان صاحب سیاسی طور پر کانگریسی لیڈر مشہور ہو چکے تھے اور بلوچستان سیاسی طور پر بیدار ہو چکا تھا"(27).

دلته یوه خبره د سړي ذهن ته راځي چې د هغه وخت لیکوالانو په خپلو اخبارونو او مجلو کښې ولې داسې مواد چاپول چې هغه د هغه وخت سرکار یا

ځینو نورو ادارو په خلاف په تاوان تمامېدل نو بیا خو د هر چا حق ؤ چې دغه اخبار ئې بند کړے وے، خو مونږ به د محققینو له څېړنو اندازه وکړو چې دوي څهٔ ډول مواد په اخبارو کښې چاپول چې له رویه ئې د اخبار مدیرانو ته تاوانونه رسېدل او په وار وار اخبار بندېدے او بیا جاري کېدے، دلته د هغو مضمونو نمونې ورکول ضروري دي چې ایا واقعي هم خدائے مه کړه استقلال داسې مضامین چاپول چې هغه د اولس په تاوان تمامېدل یا د وخت سرکار د ائیني تقاضو ئې خیال نهٔ شو ساتلی، یا هسې د یو اولس په بیدارئ کښې د مخالف ګټو ته تاوان رسېدے. په دې اړه دلته د استقلال د مضامینو په اړه شهسوار سنګروال لیکي:

"نومورې په ۱۹۳۸ء کال د استقلال اخبار د لومړي ځل دپاره خپور کړ چې بیا په ۱۹۵۰ء د وخت د حکومت له خوا بند کړے شي، همدارنګه د "وررور پښتون" ګوند نشراتي ارګان دوه رسالې میاشتنئ "پښتو" اووۀ ورځنئ "پیغام جدید" چې د دۀ [خان شهید] په ادبي هڅو ئې خپرونې پېل کړې وې... دغو خپرونو په خپل وخت د پښتون قام د ویښتابۀ او پښتو ادب د ودې دپاره نهٔ هېرېدونکي خدمتونه کړي دي. خان شهید په دې کارونو اکتفا نهٔ ده کړې عملاً ئې په خپله هم د پښتو ادب د خدمت دپاره قلم په لاس د پښتو ادب ډګر ته راوتلے دے"(۲۹).

داسې د خپلې ژبې او ادب دپاره په اخلاص کار کول د هر چا د انساني بشري تقاضو غوښتنه ده، او دا خدمت یوائې خان شهید نهٔ بلکې په هغه وخت کښې د هرې ژبې منورینو په ډاګه کړے دے. نو که د نورو ژبو او ادب دپاره څوك عملي ګامونه اخستلے شي خان شهید خو په سر کښې حقدار ؤ ځکه چې پښتون قام له عمرو راهیسې کله د پیرنګي په جامه کښې کله په بله جامه کښې تر پردیو تر لاس لاندې وو.

# په کراچۍ کښې د پښتو مجلو روایت

کله چې له پښتني سيمو سره د تړلي ادبي، سياسي، تاريخي، جغرافيائي او ثقافتي ليکنو تحقيقي يا تنقيدي مطالعه کېږي نو د پښتنو له هغې سيمې چې مونږ ورته کراچۍ وايو سترګې پټول او د دې سيمې په هر اړخ نظر نۀ کول يوه تاريخي ناانصافي بلل کېدے شي ځکه چې په خصوصي توګه په کراچۍ کښې په مليونو او په عمومي توګه په نورو شا و خوا سيمو کښې د لکهونو په شمېر پښتانۀ پراتۀ دي او له عمرو عمرو راهيسې هم دلته ژوند کوي. نو د نورو پښتني سيمو غوندې به دلته هم په هر علمي اړخ هلې ځلې پېل شوې وي. په شلمه پېړۍ کښې د نورو شا و خوا سيمو سره سره په کراچۍ کښې چې کله د خيبر پښتونخوا ډېر پښتانۀ هلته مېشت شو نو ادبي هلې ځلې هم ورسره روانې شوې. په بېلا بېلو وختونو کښې هلته له نورو ادبي سرګرميانو سره په څنګ کښې ادبي مجلې هم پېل شوې. په دغو ادبي مجلو کښې لومړۍ مجله د عدل په نامه خپرېده.

عدل مجله که څۀ هم درې واره بنده شوې ده خو بيا ئې هم مديرانو او چلوونکو همت له لاسه نۀ دے ورکړے په وار وار ئې بيا جاري کړې ده. په دې حبيب الله رفيع ليکي:

"د عدل مجله لومړے ځل د ۱۹۴۸ء کال په جولائي کښې په پېښور کښې د ملي او انقلابي شاعر ښاغلي اجمل خټك په چلونه راووته خو تر څو کټو خپرېدو وروسته بنده شوه. د دې مجلې دويمه نشراتي دوره په ۱۹۵۸ء کښې پېلېږي. او د شبر علي انور باچه په مديريت له کراچۍ څخه خپرېږي، دا دوره ئې تر ۱۹۵۹ء پورې دوام کوي. د عدل د مجلې درېمه دوره هم په کراچۍ کښې په ۱۹۶۹ء کښې کال د ښاغلي سليم راز په نګرانۍ کښې شروع کېږي خو دا دوره ئې هم ډېره اوږده نۀ ده او په ۱۹۷۰ء کال کښې بېرته له منځه ځي"(۳۰).

د عدل دربمه ګڼه له ما سره موجوده ده، د دغې ګڼې د سر په صفحه باندې میاشتنۍ خو لاندې ورته اپرېل او مارچ ۱۹۷۰ء لیکل شوي دي. نګران ئې سلیم راز، مدیر ئې محمد بهادر، ملګری مدیر ئې طاهر اثر اپرېدے چې تر عدل وروسته ئې له پلوشې مجلې سره مرسته کړې ده او بیا ورپسې تر وروستیو شپو پورې د یوې معیاري او امتیازي مجلې جرس مدیر اعلی هم پاتې شوے دے.

دا خبره تر لمر هم ښکاره ده چې په پښتني سیمو کښې هر ځاے چې څۀ نه څۀ د پښتو ژبې خدمت ته چا ملا تړلې ده نو مخالفینو ورته په لاره کښې ازغي کرلي دي او په پښتني نورو سیمو لکه افغانستان، خېبر پښتونخوا او بلوچستان کښې چې په ابتداء کښې صحافت که د ورځپاڼې په شکل کښې وي یا مجلاتي صحافت وي له ډېرو ستونځو سره مخامخ شوے دے، دغسې په کراچۍ کښې هم په پښتو کښې لومړۍ مجله عدل له دغسې کړاوونه نه را تېره شوې ده. په دې اړه د مجلې په اداریه کښې لیکلي دي چې:

"نېشنل پرېس ټرسټ د ایوب خان د دور حکومت یو داسې تور او سپېره دغه د صحافت په لمن لګېدلے دے چې اوس هم د موجوده حکومت د نورو ډېرو ښو اقداماتو باوجود موجود دے. د پرېس ټرسټ د قیام مقصد د دې نه سیوا نور هېڅ نۀ ؤ چې په ملك کښې د تحریر که څۀ لږه ډېره ازادي وي نو هغه هم غصب کړے شي او هم دغسې وشو. تېر حکومت څۀ په چل هنر څۀ په زور او زر د پروګرسیو لمېټډ نه اخبارونه قبضه کړل...دا د شرم خبره نۀ ده چې د [د پاکستان رائټرز ګلډ] ممبر شپ په فارم به هم د ایوب خان دستخط ضروري ؤ او هله به هغه ادیب ادیب منلې کېدو، انالله و انا الیه راجعون"(۳۱).

**پایله**: د پښتو ادبي او صحافتي تاریخ څېړنه دا حقیقت څرګندوي چې د لومړي دور صحافت د پښتون ملت د را بیدراه کولو لپاره د یوه موثره هتیار په ډول کارول شوی دی. چونکې د رسنیو له لارې خبرتیا او بیداري د سیاسي بدلون پېلامه ګرځي او خلق چې په خپل حق او فاعلي کرادر خبر شي بیا په

کراره نه کېښېني ځکه د صحافت مخور کسان هر ځاے چې وو د کړاونو او مصيبتونو سره مخامخ شوي دي. که په افغانستان کښې وو، که په خېبر پښتونخوا کښې يا په جنوبي پښتونخوا کښې له ډېرو ستونځې د هغوي مقدر پاتې شوي دي. استقلال اخبار د فرنګيانو له خوا په وار وار بندي کړل شو. دغسې په خېبر پښتونخوا کښې د اسلام مجلې له مدير سره سختي کول او په وار وار زهېرول يا په افغانستان کښې له پښتو شمس النهار يا سراج الاخبار له مديرانو سره يا د اخبار له جائز چاپي موادو سره په هر شکل کښې اختلاف درلودل او چلوونکو ته ئې ستونځې پېښولې که يوې خوا ته ناروا عمل دے نو بلې خوا ته اولس له خپلو حقوقو محرومول هم ضمناً ورسره مخې ته راځي او پايله ئې دا راځي چې په خپل روا حق سره کله هم ځوك پته خولۀ نۀ پاتېږي. په اوسني وخت کښې پښتو صحافت د خپلې ارتقائي مرحلې ډېر منزلونه پرې کړي دي او لائې کوي. هيله ده لکه اوس چې پښتانۀ د خپلې ژبې سره ځومره خواري کاږي دغسې به دا هڅې جاري وساتي په لنډ وخت کښې ممکنه ده چې پښتانه د نړۍ د نورو قامونو په قطار کښې اوس هم ولاړ دي او بيا به هم له جهانه سره د سيالي کولو پوره حقدار شي. او د وئيلو او ليکلو ازادي به نور هم امکان و لري.

***

## حوالې

(۱) یون، محمد اسمٰعیل، پوهندوي، افغاني اوسنۍ رسنۍ، یون کلتوري یون، افغانستان، ۱۳۷۸ل، مخ۴.

(۲) حمید الله، صاحبزاده، پروفیسر، پښتو صحافت د کوټې په سیمه کښې، اسلامیه پریس کوټه، نومبر ۱۹۷۳ء، مخ۲.

(۳) کاکاخېل، بهادرشاه، ظفر اللغات، پاکستان ایجوکیشنل پریس لاهور، س ن، مخ۳۱.

(۴) مشوانې، زاهد، زاهد پښتو پښتو سیند، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱ء، مخ ۵.

(۵) ایضاً، مخ ت ب ن.

(۶) قرآن کریم، سورة مائده، آیت .....

(۷) قرآن کریم، سورة طلاق، پاره ۲۸.

(۸) الحدیث،

(9) صابر، سلطان محمد، صوبہ سرحد پر پہلی لسانی اور ثقافتی کانفرنس، (مقالات) ترتیب پروفیسر نواز طائر، پشتو اکیڈیمی پشاور یونیورسٹی، 1986ء، ص195.

(10) جواد، یاسر، عالمی انسائیکلو پیڈیا، (جلد دوئم) ناشران وتاجران کتب، صوفی سٹریٹ اردو بازار لاہور، مخ115.

(11) حجازی، مسکین، پاکستان میں ابلاغیات ترقی اور مسائل، سنگ میل پبلی کیشنز لاہور، 1990ء، ص9.

(۱۲) ایضاً، ص ۹.

(۱۳) هما، همايون، د قند هېنداره، د پښتو ادب په ترقۍ کښې د قند مجلې برخه (پي ایچ ډي تهسيز) کوثر پرنټنګ پريس، مردان، ۲۰۰۲ء، مخ۵.

(14) صابر، سلطان، پشتو صحافت، مشموله پہلی لسانی اور ثقافتی کانفرنس، پشتو اکیڈمی پشاور یونیورسٹی، 1986ء، ص187، 188.

(۱۵) هما، همايون، د قند هېنداره، مخ۷، ۸.

(۱۶) خان شهيد، عبدالصمد خان اڅکزی، زما ژوند او ژوندون (لومړے ټوك) مخ۳۲۴.

(۱۷) هما، همايون، د قند هېندار، مخ۳۱.

(۱۸) نيازی، شهسوار سنګروال، د پښتو ادبياتو معاصر تاريخ، دانش کتاب خانه ډهکي نعلبندي قصه خوانۍ بازار پېښور، ۱۹۹۷ء، مخ۲۹۸.

(۱۹) وجدي، عبدالجليل، پښتو ادب او ډله ايزې مفاهمي وسيلې (ذرائع ابلاغ) مشموله پښتو ژبه او ادبيات د يويشتمې پېړۍ په درشل کښې، پښتو ادبي ملګري لورالائي، س ن، مخ۲۰.

(۲۰) ایضاً، مخ۹۱.

(۲۱) ایضاً، مخ۹۴.

(۲۲) ایضاً، مخ

(۲۳) ترین، شوکت، د انجن وطن علمي او سیاسي څېړنه، مشموله د خان شهید علمي او ادبي خدمات، د مقالو ټولګه، پښتو څانګه بلوچستان پوهنتون کوټه، ۲۰۱۲، مخ۱۴۱.

(۲۴) سیال، کاکړ، ولي محمد، پښتو او پښتانهٔ په سهېلي پښتونخوا کښې، بولان بك کارپورېشن کوټه، مخ۱۲۸.

(۲۵) حمید الله، صاحبزاده، د پښتو د ودې ټولنه پښین، (س، ن) مخ۱۱.

(۲۶) تابان، ډاکټر، لیاقت، د سهېلي پښتونخوا پښتو رسنۍ، ملګري لیکوال کوټه، اګست ۲۰۰۸ء، مخ۳۵.

(۲۷) هیوادمل، زلمی، د پښتو نثر اتهٔ سوه کاله، (دویم چاپ) دانش خپرندویه ټولنه پېښور، ۱۹۹۲ء، مخ۹۵۱.

(28)نغمانہ، سیمی، پروفیسر، ڈاکٹر، بلوچستان میں ابلاغ عامہ آغاز وارتقاء، مقتدرہ قومی زبان، پاکستان، 2006ء، ص230.

(۲۹) سنګروال، شهسوار، نیازي، د پښتو ادبیاتو معاصر تاریخ، مخ۵۴۶.

(۳۰) رفیع، حبیب الله، پښتو خپروني، د پښتو پرمختیا او پیاوړتیا امریت، افغانستان، ۱۳۵۶ کال، د زمري میاشت، مخ۱۰۷.

(۳۱) اداریه او خصوصي مقاله، (مشموله عدل مجله کراچی) مارچ اپریل ۱۹۷۰ء، مخ۴،۳.